رسنيزه اعلاميه
15/08/2025

# د طالبانو د څلورو کلونو واکمني: افغاني ښځې د حقونو او عدالت لپاره مبارزې ته دوام ورکوي

د ۲۰۲۱ کال د اگست له ۱۵مې راپدېخوا چې طالبان واک ته ورسېدل، چې اوس يې څلور کاله پوره کيږي، د افغانستان خلک د بشر حقونو په برخه کې له بې مخينې کړکيچ سره مخامخ دي. په دې موده کې، طالبانو د خلکو بشري حقونه په پراخ او سيستماتيک ډول، په فاحش او جدي توگه نقض کړي دي؛ هغه حقونه چې په بين المللي الزامي اسنادو کې، لکه د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق او د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنگي حقونو بين المللي ميثاق کې په صراحت سره تضمين شوي دي.

افغاني ښځې او نجونې په ځانگړي ډول د طالبانو د توپيريزو او محدودوونکو سياستونو هدف گرځېدلې دي او له خپلو بنسټيزو حقونو او آزاديو لکه د زده کړې، کار او آزادانه تگ راتگ له حقونو او په عمومي او سياسي ژوند کې د فعال گډون له حق څخه محرومې شوې دي. دغه کړنې نه يواځې د برابرۍ، اصل او د تبعيض د مخنيوي ښکاره سرغړونه ده، بلکې د هيواد پر ټولنيز، فرهنگي او اقتصادي راتلونکې باندې يې ژورې، تلپاتې او نه جبرانيدونکې اغېزې ښيندلې دي.

د ښـځو برعلاوه، قومي، مذهبي او جنســيتي لږکي هم تر سيســتماتيکو محدوديتونو او تبعيضونو لاندې راغلي دي او په سياسي، ټولنيزو او فرهنگي برخو کې يې گډون په هدفي ډول کم شوی دی. دغه سياستونه د افغانستان د بين المللي ژمنتياوو ښکاره سرغړونه او د بشري حقونو د نړيوالو اصولو او معيارونو پر وړاندې ښکاره بې اعتنايي گڼل کيږي.

د طالبانو کړنو، له که د اسـاسي قانون لغوه کول، او د ډېرو نورو ملي قوانينو ځنډول يا لغوه کول، عملاً د افغانســتان د خلکو د بشري حقونو د خونديتــوب او ملاتــړ حقوقــي تضمينوونکې بنســټونه له منځه وړي دي. دې چلند نــه يواځې عدالت ته د هيوادوالو لاسرســی په جدي او سيســتماتيک ډول مختــل كــړی دی، بلکې د بشري حقونو د پراخ، منظم او ســاختاري نقض لپاره يې زمينه برابــره کړې ده. د دې وضعيت مخامــخ او انــکار نــه منونکې پايله د مخکني دولت د کارکوونکو، د هغوی د کورنيو، د بشر حقونو مدافعينو په ځانگړي ډول د ښــځو د حقونو فعالانو او خبريالانو پر ضد له تاوتريخوالي د ډکو، ســازمان شــويو او غچ اخستونکو بريدونو دوام دي، چې د ساحې پراخوالې، شدت او ناوړه ټولنيزې اغيزې يې اندېښمنوونکې او خبرداری وړ دي.

همدا راز، کره شــواهد او اســناد ښــيي چې د مخکنيو امنيتي ځواکونو هدفي او له محاکمې پرته وژنې په پراخه توگه تر سره شوې دي، او تر څنگ يې خپلسرې او غېرقانوني نيونې، اجباري تري تم کول، شــکنجه او د بې رحمانه، غيرانســاني او ســپکوونکو چلندونو او سزاگانو نورې بڼې د هېواد په بېلابېلو برخو کې تکرار شوې او پراخې شوې دي. دې وضعيت په ښکاره ډول د خلکو په منځ کې د ځپنې، وېرې او ډار فضا نوره هم شديده کړې ده، او ناامنۍ او عمومي بې باورۍ يې بې ساري کچې ته لوړه کړې ده.

په دې شرايطو کې، رواداري په دوامدار او سيستماتيک ډول، د نظارت له معياري ميتودونو څخه په استفادې سره، د بشري حقونو د نقض موارد په ځانگړې توگه د مدني او سياسي حقونو په برخه کې څېړلي او مستندسازي کړې دي. رواداری ، سره له دې چې د طالبانو له لوري له جدي خنډونو او سختو محدوديتونو سره مخ دي، د څو سرچينو پر بنسټ د څېړنې له لارو چارو کار اخيستی؛ لکه مرکې، د پوښتنليکونو

ډکول، او له قربانيانو، پاتې شـــوو کســـانو، عيني شاهدانو او باوري سيمه‌ييزو سرچينو سره مستقيم تماس. مونږ توانېدلي چې د باور وړ او اتکا وړ معلومات راټول او ثبت کړي.

له دې ناوړه شرايطو سره سره، د مدني بنسټونو او د بشر حقونو د فعالانو او ځيني رسني پرله پسې هڅو د بشر حقونو د نقض د عاملانو مسئول گرځولو لپاره د هيلو کوچنۍ دريڅې پرانستې دي. لکه ښځو سره د تبعيض د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسيون (CEDAW) د مفادو پر بنسټ د څلورو هيوادونو، المان، کاناډا، استرالیا او هالنډ د احتمالي شکايت د اعلان يادونه اړينه ده، او همدا راز د طالبانو د دوو لوړپوړو چارواکو د نيولو حکم صادرېدل يو مهم پرمختگ دی چې د جزايي بين المللي محکمې ICC له خوا يې حکم ورکړل شو؛ دا هغه اقدامات دي چې که څه هم محدود دي خو له حقوقي او سمبوليک پلوه د عدالت غوښتنې او د معافيت له فرهنگ سره د مقابلې په لاره کې مهم گام گڼل کيږي. د تاکيد وړ ده چې د دې اقداماتو ټينگښت او د هيلو د دريڅو رامنځته کېدل د افغانانو د پرله پسې هڅو او سرښندنو پايله ده؛ هغه خلک چې د سختو فشارونو، گواښونو او محدوديتونو سره سره لا هم د خپلو بنسټيزو حقونو د ترلاسه کولو او خپل انساني کرامت د خونديتوب لپاره درېدلي دي. په همدې لړ کې، رواداري د مدني ټولنې له يو شمېر بنسټونو سره په همکارۍ يو بهير پيل کړی، چې پر بنسټ به يې طالبان په سمبوليک ډول د ښځو د بشر حقونو د ښکاره او سيستماتيک نقض له امله په ولسي دايمي محکمه (Permanent People’s Tribunal) کې محاکمه شي. دا نوښت په بين المللي کچه د ځواب ويلو له داسې يو ميکانيزم څخه د افغانستان د مدني او بشرى حقونو د سازمانونو لومړنۍ گټه اخستنه ده، او د عدالت غوښتنې له وسيلي څخه په اغېزناکې گټې اخستنې کې د دې بنسټونو د پوهې او وړتيا ښکارندويي کوي.

هيله کيږي چې نړيواله ټولنه او د ملگرو ملتونو سازمان د بشري حقونو د نقض د درولو لپاره پر طالبانو لازم فشارونه وارد کړي، او په افغانستان کې د بشر حقونو د ښه والي لپاره د عدالت غوښتنې شته بهيرونه نه يواځې وساتي، بلکې د پام وړ پياوړتيا ورکړي. همدا راز، تمه کيږي چې افغان مدني سازمانونه د لا ډېرې همغږۍ او يووالي له لاري، اغيزمن او دوامدار گامونه واخلي، تر څو د خلکو او مدني ټولنې يوه پراخه مبارزه د بشري حقونو په ځانگړې توگه د ښځو د حقونو بيا احيا لپاره رامنځته شي.